عبدالغفور لېوال ٢٠٢٣/٠٣/١٠

# موږ او د بداخلاقۍ زمانه

آیا موږ د بشریت د تاریخ په تر ټولو بداخلاقه زمانه کې ژوند کوو؟
سخته پوښتنه ده.
اخلاق نسبي مفهوم دی او د مکان و زمان تر ځانګړيو شرايطو بدليږي. اخلاق د بشريت لپاره يوه خورا لرغوني مسئله ده او له زرګونو کلونو وړاندې د مصر و يونان څخه رانيولې، تر آريانا و هيندوستان پورې يې ګڼ پېژاندونه وړاندې شوي. ډېر ځله له دين سره ګډ راپېژندل شوي دي، خو يو تر ټولو ساده او اسان پېژاند يې دا دی، چې:

هغه ګړ و کړ (وينا و عمل) چې بل انسان يا طبيعت ته يې ګټه ورسيږي، اخلاقي ګړ و کړ دی.
د دې پرعکس، که د کوم ګړ و کړ تاوان (انسان) يا (طبيعت) ته پيښيږه، بداخلاقي ده.
انسان او طبيعت ته زيان او ګټه رسول هم بدلېدونکي مفاهيم دي او انسان و طبيعت هم له مکان و زمان سره بېلې ماناوې ښندي.

زموږ په زمانه کې، چې له انسان څخه بل انسان و طبيعت ته تر ټولو لوی زيانونه رسيږي، دا ښکاري، چې موږ د بشريت د تاريخ په تر ټولو بداخلاقه زمانه کې اوسيږو.

ولې؟

وسله جوړونه د بشريت تر ټولو ستره بداخلاقي ده!

نن بشريت د نړۍ د تاريخ تر ټولو زياته وسله جوړوي، داسې وسله، چې په يوه شيبه کې انسان او طبيعت نيستولای شي.

همدا نن سبا په نړۍ کې سمې نيمايي جګړې د دې لپاره رواني دي، چې د زوررورو جوړې کړلای شوې وسلې وپلورل شي، وسلې هله پلورل کيږي، چې وکارېږي، او وسلې هله کاريږي، چې بنيادمان سره وجنګيږي.

نړۍ د ځنګل تر قانون لاندې ژوند کوي، دلته هر زورور کمزوری خوري. زورور (بادار = جلاد) وسلې جوړوي، چې د هېګل له ديالېکټيکي معادلې سره سم يې روسته پاتې (غلام= قرباني) ولسونه و کاروي.

دواړه لوري بداخلاقه دي. زورور وسله جوړوونکي ځکه بداخلاقه دي، چې وسلې جوړوي او کمزوري سره جنګوي. کمزوري ځکه بداخلاقه دي، چې د جهل او ناعقلانيت له لاسه سره جنګيږي او د وسله جوړونکيو مارکېټ ته ګټه ورزياتوي.

محاسبه وکړئ:

په تېره نيمه پېړۍ کې به يوازې په افغانستان کې څومره (سپکې او درنې) مرمۍ ډزېدلې وي؟ ښايي څو ټريليونه؟ اوس که د وسلې له بيې سره د هرې مرمۍ بيه لږ ترلږه يو ډالر وګڼو، نو يوازې د افغانستان جګړې ټريليونونه ډالر د وسله جوړوونکيو مارکېټ ته ګټه رسولې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

وسله جوړوونکي دونیا بداخلاقه وه، چې موږ یې سره جنګولو، او موږ تر دوی زیات ځکه په بداخلاقۍ تورن یو، چې دوی سره جنګولو او موږ سره جنګېدلو.

زموږ ګیله دا وه، چې ولې مو سره جنګوي؟

د دوی تمسخر دا و، چې : موږ به هرڅه کوو، تاسو ولې سره جنګېږئ؟

بشریت لا هم د خپلې ګټې لپاره بل ته تاوان رسوي او دا بداخلاقي ده.

د بشري حقونو نړیواله اعلامیه د بشریت په تاریخ کې تر ټولو لویه اخلاقي بریا ده، خو بدي یې دا ده، چې د ټول (بشر) لپاره نه ده. د بشري حقونو نړیواله اعلامیه د زورورو لپاره (ملي) ده، نه (نړیواله).

د بشري حقونو اخلاقي پنځګر لا هم وسلې جوړوي او دا چې په دغو وسلو د نړۍ په کوم کونج کې څوک وژل کیږي، نه هغه ورته بشر ښکاري او نه هم دوی ته وسله جوړونه خپله بداخلاقي برېښي!

(ګټه) قاتله ده، (اخلاق) وژني.

(جهل) قاتل دی، (اخلاق) وژني.

د زیاتې ګټې جنون او جهل دواړه انسان او طبیعت ته زیان رسوي.

(ګټه) زموږ په (جهل) کې پانګونه کوي او دغه پانګونه بداخلاقي ده.

موږ د وسله جوړوونکیو بداخلاقي وربدلولای نه شو، خو ځان د عقلانیت په زور اخلاقي کولای شو او هغه داسې، چې د شعور او عقلانیت دې برید ته ورسېږو، چې: که هغوی وسله جوړوله هم موږ یې په هېڅ نامه یو د بل ټټر ته ونه نیسو، ډز پرې ونه کړو او ځان د جهالت او کمزورۍ له بداخلاقۍ څخه وژغورو.

## شته څوک چې په دې اړه فکر وکړي؟

----------------------------------------------------------------------------------------

که څوک یې په خورا فصیحه انګریزۍ یا بله نړیواله ژبه ژباړلای شي، نو همت دې وکړي.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ